# د موم ماشومان



Southern African Folktale
Wiehan de Jager
Darakhte Danesh
2
پښتو ps



وو نه و، په یو ځای کې یوه خوشحاله کورنۍ اوسېدله.

هغوی هیڅ کله له یو بل سره جنګ او جګړه نه کوله. هغوی
به له خپل مور او پلار سره په کور او بهر کې مرسته کوله.





مګر هغوی دا اجازه نه لرله چې اور ته نېږدې شي.



هغوی مجبور ول چې خپل ټول کارونه د شپې لخوا ترسره کړي. ځکه چې هغوی له موم څخه جوړ شوي وو.



مګر د یوه هلک خوښېدل چې لمر ته ولاړ شي.



یوه ورځ هغه ډېرغوښته چې لمر ته ولاړ شي، که څه هم ورونو یې هغه ته اخطا ر ورکړی و.

خو د هغه ورونو دی ډېر ناوخته ولیده هغه ویلپ شوی و.





د موم ماشومانو چې خپل ورور د ویلچ کېدو په حال کې
ولید نو ډېر خفه شول.



مګر هغوی يو پلان جوړ کړ. هغوی د ويلې شوي موم برخې راټولې کړې، او هغوی ته يې د يوه مرغه شکل ورکړ.



هغوی د خپل ورور له موم څخه جوړ شوی مرغه د یوه غره په لوړه څوکه کېښوده.



څنګه چې د سهار لمر را پورته شو، ياد مرغه د سهار په رڼا کې په سندرو ويلو پيل وکړ.

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## د موم ماشومان

Southern African Folktale
Wiehan de Jager
Darakhte Danesh

CC BY